اړینه نه ده چې جګړه دې یوازې د جګړې په ډګر کې وکړای
شي، بلکې جګړه د فکر په وسیله هم کېدلای شي.
سلطان صلاح الدین ایوبي



# د پورن ګرافۍ تاریخچه

رساله

Ketabton.com

لیکوال: ابو فرهان بن عبدالرحمان
ژباړن: شریف الله تنها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# معرفت

لیکوال ................................................. فرهان بن عبدالرحمان

ژباړن............................................................... شریف الله تنها

د خېړنې جوړښت...............................................................رساله

د تلیفون شمېره.............................................0093706996648

برېښنا لیک ..............................shariftanha600@gmail.com

واټساف شمېره...............................................0093779385830

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن خبرې

الحمدالله! موږ مسلمانان یو او اسلام د ستر تهذیب او انسانیت دین دی. له نن څخه تقریبا څوارلس کلونه مخکې الله رب العزب په قرآن کریم کې فرمايلي دي چې فحاشي ته مه نیږدې کیږي او همداراز نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم په خپلو ارشاداتو کې دې موضوعاتو ته اشاره کړې ده. دا چې خدای جل جلا له او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم موږ له یو کار څخه منع کړي یو، نو بې له شکه چې هغه کار به ناوړه او بې ګټې وي.

کفري نړۍ غواړي چې مسلمانان تر ممکن حده ګمراه کړي او د نړۍ په داسې مزو او مصیبتونو کې يې بوخت کړي، تر څو د اسلام د لوړتیا لپاره کار کولو ته وخت ونه مومي. هغوی د اسلام او مسلمانانو تاریخونه لوستلي دي، پوهیږي که چېرته مسلمانان په داسې کړنو بوخت نه کړو، نو دوی به زموږ نظامونه ړنګ کړي، نو ځکه خو د مسلمانانو د بوختولو لپاره د هغوی ترمنځ دیني، مذهبي، کلتوري او ځنې نورو اختلافونو ته لمن وهي.

پورن ګرافي یا لوڅ انځورونه او ویډیوګانې که د اسلام له نظر حرام او ناروا څيزونه دي، کتل يې ناروا دي، د ایمان لپاره زیانمن دي، خو له بل پلوه د بدن او وجود لپاره هم د ستر زیان سرچینه بلل شوې ده. دا چې زموږ په ټولنو کې دغه مرض ورځ پر ورځ په ډېرېدو دی، زیاتره خلک يې له دواړو جهانونو له زیانونو څخه خبر دي، خو یو شمېر داسې خلک به هم شتون لري چې شاید د پورن او لوڅو ویډیوګانو د کتلو له زیانونو څخه ناخبره وي، نو دا مې غوره وګڼله چې په اردو ژبه کې دا لیکل شوې لنډه رساله پښتو ژبې ته راوژباړم، تر څو دغه خلک هم د دې کړنې په ځان خبر شي.

د دې رسالې لیکوال ابوفرهان بن عبدالرحمان دی. ډېره ښه او مقصدي لیکنه يې کړې ده. هغه د خپلې ژبې او ټولنې مسؤلیت اداکړی دی، ما چې ولوسته نو فکر مې وکړ چې دا زما مسؤلیت دی چې داسې یوه مقصدي لیکنه پښتو ژبې ته وژباړم. څه پته لګي، که خدا جل جلاله زما د لیکنې پرمټ ډېرو ته هدایت وکړي! بس د لیکنې په ژباړه مې پیل وکړ، په خپل هدف کې بریالی شوم، ژباړه بشپړه شوه او الحمدالله نن ستاسې لاسونو ته دروړسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلـه خبره چې یادونه یې اړینه ده او هغه دا چې په دې لیکنه کې ځنې مطالب یواځې په هند او پاکستان پورې مربوط دي، لکه انټرنیټ پاکستان ته په **۱۹۹۲** م کال کې لاره پیدا کړه او نور... **لامل** یې دا دی چې دا لیکنه د پاکستان هېواد اوسېدونکي کړېده، ځکه یې بار بار د خپل هېواد نوم ذکر کړی دی. موږ پکې د ګران هېواد افغانستان په اړه یادونه نه ده کړې، خو ان شاالله په راتلونکي کې به د افغانستان په اړه هم څېړنه کوو. ان شاالله!

دا چې انسان کمزوری دی، زه هم یو کمزوری انسان یم ،کـه چېرې زما پـه ژباړه کې کومه ستونزه یا تېروتنه وي، نو مهربانۍ وکړئ ماسره اړیکه ونیسئ او خپله تېروتنه راته وښايئ، تر څو د اصلاح او سمونې هڅه یې وکړم!

نور نو ستاسې او د دې رسالې ترمنځ د بېلتون کرښـه نه جوړېږم. په ډېره مینه مو د دې مقالې لوستلو ته رابولم!

په پښتنه مینه او درنښت

استاد شریف الله تنها

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پورن ګرافۍ تاریخچه

په خاضر وخت کې پورن ګرافي یو ستر ټپ او فتنه ده. دا هغه زهر دي چې تر دې دمه یې دوا جوړه نه شوه او که شته نو څوک پرې عمل نه کوي. دا هغه فتنه ده، د کومې له برکته چې خلکو خپلې روپۍ او ژوند دواړه قرباني کړل.

محترمو! موږ اکثره فکر کوو چې د پورن ګرافۍ دا لویـه فتنـه بـه کله پیل شــوې وي؟ تاریخي پســمنظر یې څه دی؟ د شــتون اســاسي محرکات یې څه دي او نن په دې برخه کې څومر جدتونه او ابداعات منځ ته راوړل کېږي؟

که موږ تاریخ مطالعه کړو، نو دا به راته واضح شي چې په تاریخ کې پورن ګرافي د لومړي ځل لپاره د وسلې په ډول د سلطان صلاح الدین ایوبي(۱۱۳۷ـــ ۱۱۹۳) د واکمنۍ په دور کې وکارول شوه. تر ټولو دمخه دغه لاره صـلیبي پاچاهانو د وسـلې په توګه وکاروله. هغه وخت چې صـلیبیان په هر ډګر کې د مسـلمانانو له لوري د ماتې او شکستونو سره مخ وو، نو د صلیبیانو د فکر لوري بدلون وموند. کله چې یونیم لاک اسلامي پوځ د اقیانوس بحر په غاړو د پنځلس لکونو صلیبي فوځونو د جسدونو ډېري ودرول، په دغه وخت کې د متحده صــلیبي فوځونو پاچاه رونالډ په چغو چغو وژړل او په پای کې یې یوه غونـډه دائره کړه. پـه دغه غونډه کې یې د اســلامي او صــلیبي فوځونو پرتلنه وکړه او دا خبره یې څرګنده کړه چې مسـلمانان ټوله شـپه په سـجدو کې خپل رب ته ژاړي او د ورځې په هر ډګر بریاوې خپلوي. د دوی په داخل کې یوه نړۍ اباده ده چې ایمان ورته وایي. دغه ایمان دی چې دوی د نړۍ له هرې وېرې او لذت پرسـتۍ څخه ډېر لرې سـاتي او دوی سـتر جنګیالي جوړوي. که څه هم صـلیبیان ټوله شـپه او ورځ په زناکارۍ او لعب و لهب باندې بوخت وي. دا چې مسـلمانان له دې نړۍ څخه بې طمعې وي او ټول فکر یې د راتلونکې نړۍ پر لور وي، نو دغـه مفکوره یې په هر ډګر کې د بریالیتوب تر حدودو رسـوي او بله دا چې د جګړې په ډګر کې د مسلمانانو له سترګو څخه کومه وېره او وحشت خپرېږي، نو پر صــلیبي فوځونو ډېر درانـه تمـامېږي او د دې ترڅنـګ په مېدانونو کې د الله اکبر هغه اوازونه او نارې چې د اسـمان تر کنارو رسـېږي، د صـلیبیانو لپاره یوه لویه سـتونزه جوړه شـوې ده. د صلیبیانو په دغه ناسته کې د برمن په نوم یو جاسوس ( څارکر ) هم شتون درلود. دا هغه څوک دی چې په صــلیبي تاریخ کې یې مســلمانانو ته ســتر زیانونه رســولي دي. برمن ډېر ځیرک و. هغه چې کله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانانو په نفسیاتو خبرې کولې، نو دا یې څرګنده کړه او ویې ویل:(( زه په خپل شپېته کلن عمر کې دا تجربه لرم چې عیاشي خوښــوونکی تن او وجود کله هم د جګړې په ډګر کې غوره عســکر نه شي جوړېدلای او په ځانګړي ډول هغه خلک چې د سـکس او جنسـیاتو سره علاقه او دلچسـپي لري. د دغسې خلکو جسـماني او روحاني قوتونه له منځه تللي وي. که زه د اسـلامي فوځونو په اړه ووایم، نو په دوی کې داسې ځوانان ډېر دي چې د جنسیت او سـکس د لذت او خوند سره ناآشنا دي. تر دې چې په دوی کې کوم واده کړای شـوي دي، هغه هم دې لوري ته ډېر لږ نظر کوي. داسې تصورات او نظـارې تـل لـه دوی څخـه لرې وي. هغوی تـه له مذهب څخه پرته مخکې او ورســته نور هېڅ هم نه ښــکاري. که موږ چېرته په دوی کې جنسيــ لوړه پیدا کړو، نو د دوی فکر او نظریات پرې کمزوري کېدلای شي. د دې میشــن د کامیابۍ یوه بېلګه هغه مســلمانان پاچاهان او وزیران هم دي چې په پیل کې د سـلطان صـلاح الدین ایوبي سره وو، خو کله چې زموږ ښـایسـته انجونو هغوی د خپلو ښایستونو قیدیان کړل، نو بیا یې خدای و رسـول نه پېژندل او سـلطان صـلاح الدین ایوبي ورته هم خپل دښـمن ښـکارېد. په دغو مسـلمانانو وظیفه خورو کې هغه جرنېلان هم شـامل دي چې د هغوی په حکومتونو کې به هغوی د مېدانونو نقشـې بدلولې او اوس د صـلیبیانو سره په ښـکته سترګو خبرې کوي، ولې چې موږ پر دوی کې جنسيــ او عورتي ارواح داخـل کړي دي. کـه چېرتـه دغـه حربـه او تدبیر پر دوی و ازمـایل شي، نو موږ به په یقیني ډول بریالي شـــو، ولې چې دا به د مســـلمانانو لپاره یو نوی څیز وي او هغوی به د دې لپاره د جنون تر حده ورســېږي.)) د برمن په دې رایه باندې روناللہ نیوکه وکړه او ویې ویل: موږ څو څو ځلې د مسـلمانانو فوځونو ته ښـایسته انجونې داخلې کړې دي. دا منصوبه ناکامه وه او سـتا منصـوبه راته هم دغسې ښکاري. برمن سمدلاسه ځواب ورکړ او ویې ویل: ښاغلیه! تر څو چې سـتا په داخل کې د یو څیز تصـور شتون ونه لري، نو د هغې شتون او نه شتون دواړه بې معنې دي. موږ ته په اسلامي فوځ کې د جنسي نړۍ د تصور پیداکول دي. د داسې عکسونو پیدا کول چې د هغوی په فکر کې د بربنډو جینکو د ښـایسـته اداګانو ګردش وښـایي، نو له هغې وروسـته به ځانونه پخپله زموږ کلتور ته وسـپاري، ولې چې دا به زموږ ایجاد وي او دا یواځنۍ لاره ده چې پر مټ به یې موږ وکولای شـو چې مســلمانانو ته ماتې او شـکسـت ورکړو. روناللہ د برمن په دې خبره یو څه ارام شـو او بیا یې وویـل: ښــه، نو تـه څـه ویـل غواړې؟ برمن پـه ډېرې ځیرکتیـا سره په تاریخ کې تر ټولو لویه وېرونکې منصـــوبـه رونـالـډ تـه وړانـدې کړه. دغه منصـــوبه نړۍ ته د پورن ګرافۍ په بڼه مخې ته راغله. د دغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

منصوبې څخه کال وروسته سلطان صلاح الدين ايوبي ته خبر ورکړل شو چې د فوځ يو شمېر ځوانان د شپې له مخې چېرته ځي او جنسي– خبرې ترې هم اورېدل شوې دي. هغه دا خبره ډېره دقيقه واخيسته. خپله هوليه يې بدله کړه او د دغو ځوانانو پلټنه يې پخپله پيل کړه. دلته د دې خبرې يادونه اړينه ده چې سلطان صلاح الدين ايوبي د غږ او خپلې څېرې په بدلولو کې ستر مهارت درلودړ. تاريخ ليکي چې سلطان صلاح الدين ايوبي څو څو ځلې د دښمن سره په بدلې څېرې او بدل اواز کې ملاقاتونه او ليدنې کړې دي. يو ځل سلطان صلاح الدين ايوبي په يوې جگړې کې صليبيانو ته ماتې ورکړه، نو صليبي اعلى افسران د سلطان صلاح الدين ايوبي مخې ته پېش کړای شول. سلطان صلاح الدين ايوبي له يو افسر- څخه پوښتنه وکړه، تا بېگا يو شخص ته وويل زه سلطان صلاح الدين ايوبي د هغه له خوشبويۍ څخه پېژنم ، هغه شخص څوک و؟ صليبي افسر- ورته وويل: ښاغليه! هغه يو عربي تاجر و، د کوم ناسم بيان چې موږ ستاسې مخې ته ودرولو. سلطان صلاح الدين ايوبي وخندل او ويې ويل: هغه تاجر زه وم. صليبي په ډېرې حيرانتيا سره سلطان صلاح الدين ايوبي ته په کتلو پاتې شو.

سلطان صلاح الدين ايوبي ته چې کله د ځوانانو په دغه پټ حرکت معلومات ترلاسه شول، نو پخپله د هغوی په لټه کې شو. په پايله کې څرگنده شوه چې د فوځي قيام گاه څخه په لږ واټن کې يوه قافله ده چې په ښکاره مسلمانان دي، خو د لغړو او لوڅو انځورونو نمونې ورسره دي. سلطان صلاح الدين ايوبي چې کله دغه انځورونه وليدل، نو حيران پاتې شو، ولې چې په دغو انځورونو کې داسې منظرکشي- شوې وه چې هر ځوان يې د جنسيت او سکس لپاره د جنون تر حده رساو. په دغه وخت کې سلطان صلاح الدين ايوبي ته د دمشق او مصر له ځينو ښارونو څخه خبر وروررسېد چې په ښار کې د فحش انځورونو قبيح ځايونه جوړ شوي دي، خلکو ته پکې لوڅ انځورونه ښودل کېږي او پر دې سربېره جنسي تعليم هم ورکول کېږي. په ليک کې يې دا هم ليکلي وو چې مسلمانان ځوانان په ډېرې تېزۍ سره د بدۍ لارې ته د مايلېدو پر لوري روان دي. سلطان صلاح الدين ايوبي سمدلاسه جنگي کاروايانې ودرولې او دې لوري ته يې ځانگړې پاملرنه وکړه. سلطان صلاح الدين ايوبي په دې اړه په يو تاريخي تقرير کې ويلي وو:(( د هر قوم قوت د هغه ښه يا بد کردار وي، دښمن زموږ د اصل قوت اندازه لگولې ده، اوس به هغوی زموږ سره مخامخ جگړه نه کوي، ځکه خو دښمن اوس زموږ په قومي کردار باندې يرغل کړی دی. دا اړينه نه ده چې جگړه دې يواځې به مېدانونو کې وشي، بلکه جگړه فکري هم کېدای شي. کوم قوم چې په فکري جگړه کې بريالی شي، نو هغه فتحه مومي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلیبي ښارګر برمن ډېر ځیرک و، که تاسې د صلیبیانو تاریخ مطالعه کړئ، نو په صلیبي تاریخ کې به دغه سړی د یو ځلېدونکي ستوري پځېر ووینئ! هغه وخت چې صلیبیانو خپلې حوصلې له لاسه ورکړې وې، برمن د هغوی مړې حوصلې بیا راژوندۍ کړې.

دوی د منظرکشیو لپاره د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه په دغه فن کې ماهرین راوغوښتل او د منظرکشیو په بدل کې یې لوړ قیمتونه ورکول. په دوی یې داسې عکسونه جوړ کړل چې نظرونه به یې په زوره د خپل ځان لوري ته جلبول. صلیبیانو چې کله خپله منصوبه بریالۍ ولیده، نو په خپلو کتابونو کې یې په ډېر افتخار سره د دې منصوبې یادونې وکړې...

سلطان صلاح الدین ایوبي که څه هم د دې ستونزې د حل لپاره ډېره هڅه وکړه، خو په بشپړ ډول درک نه کړای شوه، ولې چې د دې زهرو اثر ته په کتلو سره د حسن بن سباح قبیلې دغه لاره د وسلې په توګه کاروله. دغې ډلې له صلیبیانو څخه په دې برخه کې د نوو پرمختګونو غو ښتنه وکړه چې په دې سره د حسن بن سباح په قوتونو کې لا ډېروالی راغی. د بیت المقدس له فتحې څخه وروسته سلطان صلاح الدین ایوبي وفات شو. یهودیان که څه هم کمزوري شوي وو، خو د هغوی دغه جراثیم او وایروس په ټولنه کې په ډېرېدو او خپرېدو وو... تر دې چې د اتلسمې میلادي پېړۍ لمر څېره ووهله. دا هغه پېړۍ وه، په کومه کې چې د ساینس په علم کې د بدلون او انقلاب فضاء په الوتو وه. نوي او عصري وسایل په رامنځته کېدو وو. په اتلسمه پېړۍ کې په پورن ګرافۍ په نوي انداز سره کار پیل شو. دا ځل په پورن ګرافۍ کې له لرګیو څخه کار واخیستل شو. دوی به ونې بوټې پرې کول او جنسي غړو ته ورته څېزونه به یې ورڅخه جوړول. په فرانسه کې د جوړو شوو څېزونو د تماشې لپاره د خلکو ګڼه ګوڼه ډېره زیاته وه. له لرې لرې ځایونو څخه به خلک د دغو څیزونو د تماشې لپاره ورتلل. په دې کړنې سره په خلکو کې د پورن ګرافۍ اړوند ازادخیالي به زیاتېدو شوه. د خلکو دغې دلچسپۍ ته په کتلو سره په امریکې فرانسې او لندن کې د وډپورن ګرافۍ لپاره کوچني کوچني کورونه جوړ شول چې وړوکی شانته ځنګل به و او په هغې کې به د پورن ګرافۍ پانې هم په ونو پورې را اوېزان وې.

په ۱۸۳۹ م کال کېمره(camera) رامنځته شوه. دې ایجاد دساینس په نړۍ کې لویه جادو وکړه او ډېر ژر د پورن ګرافۍ لپاره اړینه وسیله او وسله جوړه شوه. کېمره د لومړي ځل لپاره په ۱۸۵۵ م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د پورن ګرافۍ لپاره وکارول شوه. په دغه پورن ګراپۍ کې دوی ته دا ستونزه وه چې لومړنیو کېمرو به د انځور یوه کاپي ورکوله، دغه انځور به ډېرو خلکو ته نه شو رسېدلی، خو دا ستونزه هغه وخت له منځه ولاړه کله چې په ۱۸۶۳م کال کې پرینټر رامنځته شو. د دې ټکنالوژي په راتګ سره پورن ګرافۍ بیا د پرمختګ ګامونه پورته کړل. په ۱۸۷۱م کال د پورن ګرافۍ بلیک اینډ وایټ بڼه په ډېرې تېزۍ سره مارکیټونو ته ورسېده. په دغو مارکیټونو کې د فارنسې د مارکیټونو نومونه په سر کې راځي. په ۱۸۷۶م کال ویډیووي کېمره رامنځته شوه. په دغې ټکنالوژۍ کې به ویډیووي کېمرې په یوې دقیقې کې شپېته انځورونه اړول. د دغې کېمرې لپاره یې یو ډول څرخه جوړه کړې وه چې د لاس په وسیله به کارېده. د دغې څرخې په مرسته به انځورونه په داسې چټکتیا سره اوړېدل لکه ویډیو چې چالانه وي او دغه کړنلاره بیا په ټي وي کې هم وکارول شوه. نن چې موږ کومه HD ویډیو ګورو، دا په اصل کې د زرګونو انځورونو مجموعه وي. دا دومره صفا وي او په تېزۍ سره حرکت کوي چې موږ ته یې دغه حرکت پر سترګو نه ښکاري.

د ویډیووي ټکنالوژۍ په منځته راتګ سره په اروپا کې د فلم انډسټرۍ ابتدایي ډانچه هم په جوړېدو شوه چې په دې سره په تاریخ کې په لومړي ځل په بشپړ او مسلسل ډول د پورن انډسټرۍ پیل تر سره شو. لومړنی پورن(لوڅ) فلم په ۱۸۹۵م کال د لومیر برادرز له خوا د عوامي نمایش لپاره په فرانسه کې خپور شو چې دارکټر یې البرټ کرچنر و. لومړنی لوڅ فلم ۱۶ دقیقې و چې په هغه کې یوه ښځه په بې حیا او بربنډ انداز کې خپل بدن لیدونکو ته ښایي. دا فلم د ډېرې فایدې سره سره مشهور او خوښ کړای شو چې په دې سره د جنسیت خواهیش د اړتیا له پولو څخه واوخت او په جنونیت بدل شو. د اروپا په کلیو او کوڅو کې خلکو غلط حرکتونه او چېړچاړي پیل کړل او د وخت په تېرېدو سره دغه کړنې او لاره د اروپا د کلتور یوه برخه وګرځېده...

په ۱۹۲۰ م کال په اروپایي کلتور کې د پورن ګرافي دغه زهر په بشپړ ډول خپاره شوي وو. عوامو په څرګنده د سرکونو له غاړو څخه خپل کتونه جوړ کړي وو او خپل شوقونه به یې پوره کول. پر دې سربېره په فرانسې او نورو اروپایي هېوادونو کې په سرکاري سطحه د لوڅو فلمونو نندارتونونه پرانیستل شوي وو او په دغو سیمو کې د لوڅو فلمونو د لوبغاړو د پیداوار لړۍ هم په پیلېدو وه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۷۰ م کال پاکستان او هند ته د پورن ګرافۍ د انتقال هڅه وشوه. په لومړيو کې يواځې انځورونه وو. د دغسې ويډيو د تماشې او نمايش لپاره اروپايي کمپنيو په پاکستان او هندوستان کې د لوڅو فلمونو د ننداريتونونو د خلاصولو غوښتنه وکړه، هغوی نه يواځې دا چې انکار وکړ، بلکې په دغو هېوادونو کې يې پورن ګرافي يو سنګين جرم وګڼه...

يو لوري ته په اروپايي هېوادونو کې د نوي سکس ويډيو غوښتنې پيل شوې، ولې چې د زړو کليفونو په کتلو کتلو ستړي شوي وو. بل لوري ته د دوی ټولنه پخپله په دې برخه کې دومره پراخه او ازاده شوې وه چې د داسې ويډيووي کليفونو د کتلو اړتيا هم ورځ پر ورځ په کمېدو وه. له دې وروسته د پورن ګرافۍ انډسټرۍ په دغه برخه کې په نوې طرحې فکر پيل کړ او له فکر وروسته يې په پورن ګرافي کې د کټګورۍ منصوبه پيل کړه. په دغې کټګوريو کې يې لوڅې ويډيوګانې په بېلابېلو ډولونو وېشلې وې چې د هر ډول به ځانګړی انداز و. نن سبا که خدای مه کړه موږ پورن ويب سايټ خلاص کړو، نو اوس يکې هم دغه سيستم شتون لري. اروپايي هېوادونو چې دغه کټګورۍ وليدې، نو د کتونکو شمېر بيا په ډېرېدو شو او لامل يې دا و چې دا ځل د فحاشۍ منظرونه له روايتي طريقو څخه ازاد وو. دې پراجيکټ د پورن انډسټرۍ لپاره د آب حيات بڼه خپله کړه. په دې کړنې سره د هر شخص جنسي-غريضې مخې ته راغلې. په دې ډول هر شخص ته د هغه د خوښې او طبيعت لوڅ فلمونه په پراخه اندازه وررسېدل.

په ۱۹۸۰ م کال په هند، پاکستان او شاوخوا سيمو کې د V.C.R ټکنالوژي عامه شوه. له دې څخه دمخه په دغو سيمو کې کمپيوټر هم شتون درلود، خو عام ولس ورسره ناآشنا و. په دې سره د خلکو پام د ننداريتونونو له پردو څخه لرې شو او د وي سي آر لوري ته متوجې شول. په اروپايي هېوادونو کې چې پورن کمپنيانو وليدل چې خلک د وي سي آر په نشې روږدي شوي دي، نو په سترګو کې يې د لالچ ځلاوې پېدا شوې او دغه بې حيا فلمونه يې د هند و پاکستان سربېره په ټوله اروپا کې وپلورل...

په ۱۹۹۸ م کال پورن انډسټري د نامعلومو کسانو لاس ته ورغله. په لومړيو کې به دغه لاره يواځې د جنسي-کاروبار لپاره کارول کېده، خو بيا يې د ټولې نړۍ لپاره د جنسي-دهشتګردۍ په ډول غوره کړه. په پورن انډسټرۍ کې يې يوه داسې جنسي-لاره معرفي کړه چې په څرګند ډول د سرطانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلوريا او دې ته ورته د نورو وژونکو ناروغيو سرچينه ده. دغې لارې او طريقې ته يې د اورل سـيکس نوم ورکړ. دوی د هرې لوڅې ويډيو په پای کې دغه لار تعقيبوي او ليدونکو ته داسـې ښـکاره کوي چې ګنې دغه لاره هم د جنسي عمل يو برخه ده...

د طبي ساينس د راپورونو مطابق زموږ له بدن څخه له مني سره يوه ماده خاريجېږي چې ډېری وخت په D.N.A کې د خرابۍ باعث ګرځي. که چېرې دغه ماده د خولې له لارې معدې ته لاړه شي او يا په غاښونو کې د هغې کوم پاتې شوني پاتې شي، نو د خولې خلا کې P16 پروټين په نامه يوه ماده پيـدا کوي چې دغـه مـاده د خولې سرطـان او د وينې اړوند ناروغۍ زېږوي. دا هغه ناروغۍ دي چې د يهودي ليباټريانو څخه پرته يې په بل ځای کې درملنه نه کېږي.

د دغو ناروغيو دواوې له اسرايلي کمپنيو څخه په لوړه بيعه اخيسـتل کېږي. د دغو نارغيو څخه د متاثره خلکو پـه شــکلونو کې د تغير نښـې او علامې ليـدل کېږي او په ډېرې بې دردۍ سره د مرګ ښــکار جوړيږي، نو بايد د اورل سـکس کونکي او خوښــوونکي د دې کار دمخه دنياوي او اخروي پايلې په نظر کې ونيسي.

اورل سيکس په اصل کې د خفيه يهودي ايجنسيو د امدنيو د لاسته راوړلو وسيله ده. د همې له امله خلک د هغوی ښـکار ګرځي او بيا پر هغوی په لاکونو ډالر بربادوي. د دې خبرې يادونه اړينه ده چې د لوڅو ويډيو جوړونکي له شـوټينګ څخه وروسـته سمدلاسه په خپلو خولو کې ځانګړي سپري کوي چې دغه سـپری د هغوی د خولو څخه دغه ناپاکي او غلظت له منځه وړي. زموږ علماء داسـې فکر کوي چې غربيان دغه لوڅې ويډيوګانې يواځې د مسـلمانانو پر خلاف د وسـلې او وسيلې په توګه کاروي، بلکې په حقيقت کې داســې نه ده. د دې کار له کولو څخه د يهودي ايجنســيو هدف د نړۍ ټول مذهبونه دي، ځکه چې د نړۍ ټول مذهبونه د هغوی نظريات ردوي.

يهوديان په ډېرې څيرکتيا سره په يوې داسـې منصـوبې باندې کار کوي چې هغې ته ( ون ورلډ آرډر) ويل کېږي. يعنې داسـې نړۍ چې په هغې کې د خدای هېڅ تصـور نه وي. هېڅ تهذيب نه وي، کوم قـانون نـه وي، هېڅ اصــول نه وي او يواځې د يهوديانو غلامي وي. لنډه دا چې يهوديان په ټولې نړۍ بـانـدې د واکمنۍ لپـاره ټول هغـه چلونه او تدبيرونه په کار وړي چې تر سره کول يې ممکن وي. غواړي چې د نړۍ ټول خلـک پـه هر ډګر لکـه: مـذهبي، جنسيــ، اروائي او ټولنيز کې تر خپـل اغېز

(c) ketabton.com: The Digital Library

لانـدې راولي او موږ نا خبره لا تر ننه د هغوی په دوکو او خوږو خبرو غولېږو. د یهودیانو له طوطیو او پټو رازونو څخه د پردې د لرې کولو لپاره په یوټیوب کې د الماس یعقوب په نامه یو چېنل شـتون لري دغـه چینـل تعقیب کړئ او مننه ورڅخه وکړئ، ولې چې هغه مو د یهودیانو له فتنې څخه د ســاتلو پر لوري رهنمایي کوي.

د شـلمې میلادي پېړۍ په پیل سره لا په اسیا کې د نا واضحو ټکنالوژیو دور نه ختم شوی چې پـه اروپا کې HD ټکنالوژي منځ ته راغلې وه. بالیووډ انډســټرۍ بې مثاله فلمونه پروډیوس کول او په دغه برخه کې اروپایي هېوادونو له انټرنیټ څخه ګټه اخیسته. پاکستان ته انټرنیټ په ۱۹۹۲م کې ورسېد چې لومړی انجینر یې منیر احمـد خان و. د دغه انټرنیټ ابتدایي سرعت 128k و. په ۱۹۹۵ م کال ټیلي کیمر یعنې P.T.C.L د ټول پاکســتان لپاره انټرنیټ واخیســت او په ۲۰۰۰م کال انټرنیټ د پاکســتان په ټولو عوامو کې مقبولیت پیدا کړ. په دغه وخت کې د پورن ګرافۍ زهر له سرحدونو راواوختل. اروپایي هېوادونو په لومړیو کې لوڅ انځورونه پلورل او په اروپا کې یې په نندارتونونو وخودل، خو اوس ورته د انټرنیټ پر مټ دغه ســتونزې له منځه تللې وې او په ځرګند ډول یې خپل تحارت ته دوام ورکړ. دغه تجارت ورته ډېر ګټور تمام شو. اروپایي پورن انډسټرۍ له ټولو څخه ډېرې روپۍ له اسیا څخه وګټلې. پـه ۲۰۱۵م کـال د ګوګـل د یو راپور له مخې هره ورځ تقریباً نوي لاکه پاکســتاني پورن ویب ســایټ کاروي او په هند کې په روزمره ډول شــپږ لاکه وګړي پورن ویب ســایټ کاروي چې پر مټ یې دغه انډسـټري په کروړونو ډالر ګټي. دا خو په یاد کال هغه تعداد و چې په دې کې ډېر سـایټونه بلاک هم و، که څه هم په هند او پاکسـتان کې د لوڅو انځورونو د کتونکو شمېر په کروړونو دی. دا چې په دغه برخه کې د کتونکو شــمېر په ډېرېدو شــو، خو خبرې او کیســې تکراري وې، نو یهودیان بیا د فکر په کولو باندې مجبور شـول او په ۲۰۱۴ م کال کې یې یوه داســې ځانګړې ټکنالوژي رامنځته کړه چې د سلیکون سکس ګرل په نامې سره پېژندل کېده. په دې ټکنالوژۍ کې د سلیکون او تولیدي مادې څخه په تراشـلو د یوې ښـایسـته شـکل درلودونکې انجلۍ وجود جوړ شـوی او داسـې برابر شـوی و چې د اصــلي وجود سره بـه یې توپیر ســتونزمن و. د چا سرګې به چې پرې ولګېدې، نو فکر به یې کاو چې اوس به خبرې کوي. د هغې بدن او جوړښـت به داسـې و چې اصل وجود ته به یې ماتې ورکوله. لنډه دا چې ســم دم انســان و، خو یواځې د روح کمی پکې و. دوی د دغې ټکنـالوژۍ څخـه د جنسي-غریضـې د اشـباع لپاره ګټه اخیسـته. دې ته ورته یې د ښـځو لپاره سـلیکون بوایز چې ښایسته مجسمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي برابري کړې وي. د دې مجسمو يوه ځانګړنه دا هم وه چې د هغې لچک د بدن د هرې زاويې لپاره کارول کېدای شو. راپورونه ليکي چې دغه ټکنالوژي نن ورځ هم په مارکيټونو کې شتون لري او ځنې خلک ورڅخه د جنسي-غريضې په اشباع کې کار اخلي. په ياد ولرئ چې په دغو مجسمو کې ځنې داسې رازونه شتون لري چې کارونکي يې د تل لپاره په جنسي-ناروغيو اخته کولای شي. دغه خلک له يو لوري د ناروغۍ په پورې کولو او له بل پلوه د ناروغۍ په درملنه روپۍ ګټي.

په ۲۰۱۵ م کال کې سليکون مجسمې اروپايي مارکيټونو ته وړاندې شوې. مارکيټونو ته په رسېدو پرې د پېرودونکو بېر وبار جوړ شو. د دغو مجسمو له امله د نارينوو او ښځو ترمنځ خپلمنځي روابط کمزوري شول، همدغه لامل و چې په څرګند ډول يې د ماشومانو په زيږېدنې کې کموالی راغی.

وخت تېرېده، بيا په دې برخه کې ځنې ستونزې پيدا شوې چې دغه ستونزې بيا ورچول رئيلټي ډيوايس له منځه يوړې.

په اروپايي هېوادونو کې د ماشومانو د زيږېدنې په برخه کې کموالی په ۱۸ م پېړۍ کې پيل شوی و، په ۲۰۱۵ م کال پکې زياتوالی راغی، خو اسلامي هېوادونه په دغه برخه کې په خپل حال پاتې وو. د دغه حالت له وېرې په ځينو هېوادونو کې چلډرن هاوسونه جوړ شول چې په دغه ځايونو کې به سړو او ښځو ته د ماشومانو په زيږولو ډېرې روپۍ ورکول کېدې او ټول مصارف به يې د چلډرن هاوس په غاړه وو. ويل کېږي چې په هالينډ کې يوښځې ته د ماشوم په زېږولو لس زره ډالر ورکوي او چې کله ښځه انکار وکړي، نو روپۍ د هغوی په خوښه ورکوي.

زموږ علماء که د پورن ګرافۍ په اړه هر ډول نظر لري، حقيقت دا دی چې په پورن ګرافۍ کې تر ټولو ډېر زيان هغه چا ته رسېدلی دی، چا چې يې ايجاد کړی دی.

محترمو! که څه هم مسلمانان د دغه مصيبت ښکار شوي دي، خو بيا هم تر يو حده په خپل مذهب، کلتور او ثقافت برابر روان دي. غربي ټولنې دې حد ته رسېدلي دي، تر څو د آرټيفشل ماشومانو په پيدايښت غور وکړي. کتابونه ليکي چې په ۲۰۱۳م کال د امريکا پارلمان په دې خبرې اعتراف کړی دی چې په ۲۰۵۰م کال به مسلمانان يو ستر قوت وي او پر ټولې اروپايي نړۍ به برلاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، ځکه خو اوس د اســـلام په محدودیتونو تېنگار کوي. د مســـلمانانو په ټولنو کې ازاد خیالي او د خلکو په زړونو کې له اسلام څخه نفرت پیدا کوي.

محترمو دوســـتانو! زه به دومره ووایم چې هر ســـړی عالم او مُلا دی، هر ســـړی په خپل زیان اوگټې ښه پوهېږي، خو دا چې انسـان کمزوری دی او اکثره د دوکو او وسـوسـو ښکار وي، نو باید په خپـل علم افتخـار ونـه کړي او تـل لپـاره لـه خـدای څخـه د ځان او مســـلمانانو د نجات لپاره دعاوې وغواړي. بله خبره چې یادونه یې اړینه بولم، علم لږ خو عمل پرې ډېر پکار دی!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**